دشهیـد دکتـور نجیب الله د پنځـه لسـم تلین په پرتمینه غـونډه کی چـه د کـابل د شمشاد په هـوټل کی ترسـره شوه ، د وطن گـونډ د انسجـام د لنډ مهاله تشکیلاتو
رییس ښاغلی میـر افغان باوری وینـا

بسـم الله الرحمـن الرحیـم

## درنو حضارو ، تالار ته راغلو ښاغلو میلمنو ، گرانو ملگرو !

لمړی تر هرڅه د مخه تا لارته ستاسو د راتگ له امله د درناوی مراتب پرځای کوم وروسته باید ووایم چه مونږ او تاسو نن په گډه د یوه دا رنگه سیاسی-ملی شخصیت د شهادت د کلیزی لمانځنه کوو چه هغه دولسونو په زړونوکی وړ ځای لری-ستر شهید داکتر نجیب الله د ولسونو د هیلو او گټو د سنگر پیاوړی او نومیالی مبارز وو، د سولی او ملی یووالی دلیاری وتلی اتل او پر هیواد او ولس مین سر ښندونکی رهبر وو . له پاچا تر گدا ټولوته ددوی له لوری بلنه ورکړه شوه څو د یوه افغانی دسترخوان پرشا اوخوا سره را ټول او د بحران خصلت ته په کتوسره په گډه د گډ پوهاوی په موخه په هیواد کی د تل پاتی عادلانه سولی پر لور عملی گامونه او چټ کاندی .
شهید داکتر نجیب الله په هیواد کی د ملی روغی او جوړی د سیاست په را ایستو سره د گوندی محدود او مصلحت گرایانه آندلیدی له دایری څخه په وتو سره د ملی گټو د عام طرز تفکر ولورته مخه کړه ، د خپل بشپړهاند او هر اړخیزی مرستی په کولو سره ئی مساعد خواکونه د گډی کاری پټلی پر سردارنگه هدایت کړل ، څو د بحران څخه د وتو ستونزه ټول په گډه د ملت د گټو او غوښتنو په بنیاد په پام کی ولری .
د بهرنیو نظامی ټولگیو د وتو تیوسه ئی په داسی حالت کی مطرح کړه چه د افغانستان د خلکو د دښمنانو بربند تهدید د نجیب الله زعامت او ددوی سوله غوښتونکو ملی طرحو ته متوجه وو خو هغوی په زړه ورتیا د بهرنیو نظامی ځواکونو وتنه ، چه د افغانستان د ملت اساسی غوښتنه وه ، شونی و گرځوله . دغه ټولی وینی د هغه ملی وجاهت بنیاد جوړوی ، له کومو څخه چه شهید داکتر نجیب الله په بشپړ توگه برخمن وو.
خو په تاسف سره باید وویل شی چه د سولی ضد پردو پالو او هیواد ځپونکو عناصرو د کرغیړن غوټون په پایله کی د هماهنگ شوو تو طیو او دسیسو چه له بهر څخه ئی په پټو او ښکاره لاسونو ملاتړکیده ، د سترشهید دوکتور نجیب الله او د وطن گوند د انسانی ، اسلامی ، افغانی او ولسی آرمانونو د پلی کیدو او همداشانی د ملگرو ملتونو د سر منشی د هلو او خلو بهیر و درول شو او په پای کی د وینی بهونکو جگړو او سیالیو د دوزخ توری دروازی زمونږ د مظلوم و لس پر مخ پرانیستلی شوی .
د دوکتو نجیب الله شهادت سره له دی چه د طالبی ظلمت پر لاس عملی کړ شو ، خو په حقیقت کی ټول هغوی چه د ملگرو ملتونو د هاند سره سره د همدی جنایت د ارتکاب بشپړ بسترنی غوړولی وه او هغوی چه د افغانستان له جگړو او بدامنیو څخه د گټی پورته کولو هیله درلودله او یا خوئی د خپلو ستراتیژیکو موخو او پروگرامونو د پلی کیدو اړتیا محسوسوله ، د همدی ویرونکی جنایت ترشا قرار لری .
دادی اوس له هغی توری تلی پوره پنځلس کاله وخی . پنځلس کاله تیروخت دی ، خو څرنگه چه گوړو داکتر نجیب الله دهری ورځی په تیریدو سره د هیواد د سیاسی بهیر په ټولو ابعادو کی خپل اغیز ناک او ځواکمن

حضور خپلوی . د هغوی افکار په سیاسی خوځښتونو او معنوی شخصیت ئی د ولسونو په زړونو او رگونو کی ورځای اشغالوی . دوی چه د سولی سنبول گڼل کیږی ، د شهادت حماسه ئی نن په هیواد کی د همدی لاری د مبارزی د بری ځلانده افق پرانیزی ، چه له امله ئی زموږ دهیواد تاریخ ، شهید نجیب الله د خپل د ویاړه ډک سیاسی میراث په وجه د ځلانده ستوری او دهمدی خاوری د زړه وربچی په توگه د تل پاتی درنښت او سرلوړی په لیکه کی دروی . د شهید داکتر نجیب الله د زعامت دوره د ملی روغی او جوړی د سیاست او اندلیز له مخی د پیژندو وړده . که بحث او شننه دهمدی دوری په تړه مطرح وی ، نو دملی روغی او جوړی سیاست الزاماً د نوروسترو لاسته راوړنو د لیکی په صدر کی ځای لرلای شی . ملی روغه او جوړه په سیاسی ، اقتصادی او ټولنیزو دگرونو کی یو دبل سره د تړل شوو ستراتیژیکو تړیو او نظریو سیستم وو، چه په ډیره ښه توگه ئی دداخلی اړتیاوو او غوښتنو او دنړی والو رجحاناتو څخه د نتیجی په تر لاسه کولوسره زمونږ دهیواد د سراسری بحران دداخلی او بهرنی ابعادو د حل د لاری په بنه وړاندی کړشو ، ملی روغه او جوړه تکامل د پرلپسی بدلونونو په ټولیزه کی وینې هغه دبدلون له یوه دارنگه مفهوم سره چه د هغی په محراق کی د انسان بقا مطرح وی ، د ژوری رابطی درلودونکی ده . هغی نه یواځی داچه د بدلون اړتیا په ثبوت ورسولوله بلکې پر بدلون ئی باورلرنه هم خپل پختن ته ورسوله . دملی روغی او جوړی سیاست نه کشف وو او نه اختراع بلکه دا سیاست له تیروڅخه د شجاعانه نقد او دهغو روابطو پریښودل او دهغو ضوابطو نفی کول وو ، کوموچه د بل پالنی او ذهنگریو څخه الهام اخیست .

ټولو هغو تړیو چه د راتلونکی حاکمیت د مبنی په توگه د روغی او جوړی اساس جوړاوه ، درست دیوی " صالحی دیکتاتوری " مقابل تکی گڼل کیده چه د طبقی " د قیمومیت دحق " څخه ملت ته د قدرت د لیږد پر معنی وه یعنی د یوه گوندی سیستم پر ځای د ټولیز مشارکت او کثرت گرائی د حق د اصل غوره کیدل وو.

شهید دکتور نجیب الله د همدی آندلیدی بنسټ ایښودونکی ، طراح او بشپړونکی ملی سیاسی زعیم گڼل کیږی چه په هیواد کی ئی پر همدی طرز تفکر، معتقد او متعهد بی شماره ملکی او نظامی پیاوړی کدرونه وروزل او پردی لیاری ئی ریښتنی او صادقانه تگ ته و هڅول .

پر ځای او اړینه به وی که د ټولو نورو هغو شهیدانو د خاطرو د یادونی د درناوی مراتب هم پر ځای کړو ، کومو چه له شهید داکتر نجیب الله او خپل گوند سره د سولی ، پرمختگ ، قانونیت او ټولنیز عدالت د ستری مبارزی د حماسی په لیارکی ملتیا تر سره کړی . په دی وسیله د ټولو نورگوندی او غیر گوندی نوم ورکو او پاتی نومو سرښندونکو د شهادت حماسی ته د درناوی سر ټیټوو ، د ا ځکه چه د شهید داکتر نجیب الله یاد به د هغوپه یاد سره نور هم بشپړ شی .

خلانده او تل پاتی دی وی د وطن دلاری دستر شهید داکتر نجیب الله

او نورو شهیدانو خاطری او کارنامی !

وسلام